نړیوال بانك
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبرى خپرونه**

| |
|---|
| اړیکې:<br>نړیوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضیأ ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰<br>بریښنا لیک:Azia@worldbank.org<br>نړیوال بانک په واشنگتن کی: اریك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)<br>بریښنا لیک: enora@worldbank.org |

# د نړیوال بانك مرستیال افغانستان ته په خپل سفر كې د مرستو د لاغېزمنتیا لپاره د دولت او تمویل كوونكو ګډ ګامونه وهځول او د سیمه اییزو همكاریو پر ګټو یې ټینګار وكړ

**کابل، د ۲۰۰۸م کال د مارچ د میاشتې ۳۱مه-** د سهیلي آسیا لپاره د نړیوال بانك مرستیال ښاغلي پرافول پاتل کابل ته یو دری ورځنۍ سفر سرته ورساوه چې په هغې کې یې د افغانستان د دولت او همکارانو د ګډو هڅو د پراختیا په هکله کتنې درلودې ترڅو د نړیوالو مرستو اغېزمنتیا وده ومومي او د همکارۍ او سیمه اییز پیوستون د فرصتونو پراختیا منځ ته راشي چې د افغانستان، ګاونډیو هېوادونو او ټولې سیمې په ګټه به وي.

نوموړي د جلالتمآب حامد کرزي، د حکومت وزیرانو، د ملګرو ملتونو د نوي ټاکل شوي استازي او د نړیوالې ټولنې د استازو سره د هغه پرمختیايي چارو د بریالي پرمختګ په هکله یادونه وکړه چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې په یو شمېر سکتورونو لکه روغتیا، معارف او سیمه اییز پراختیا کې لاس ته راغلي او په مستقیمه توګه د بېوزلو کسانو د ژوند د ښه والي لامل ګرځېدلي. همدارنګه ښاغلي پټیل په افغانستان کې د اقتصادي ودې د لوړې کچې د ساتنې او په خصوصي سکټور کې د کارموندې لپاره د ډاډ ورې، خوندي او رڼه چاپېریال د جوړولو لپاره د حکومت د هغه پروګرامونو د پیاوړتیا په هکله چې د ادارو او پالیسي د اصلاح لپاره دي او د بنسټونو د ودې لپاره د مهمو پانګه اچونو په هکله خبرې اترې درلودې. نوموړي د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو تر منځ د لا نږدې اقتصادي پیوستون په هکله د نړیوال بانك د مرستو په ژمنو بیا ټینګار وکړ.

*«مونږ باید د تېرو شپږو کلونو په ستونزمنو شرایطو کې د افغانستان د پرمختیایي بریاوو ستاینه وکړو .» د امطلب* **پاتل** *څرګند کړ او زیاته یې کړه چې «تراوسه هم ډېرې چارې پاته دي چې باید د دولت او نړیوالو مرستندویانو له خوا د ګډو هڅو د اوچتولو لپاره ترسره شي ترڅو د افغانستان د خلکو هیلې چې د نړۍ په یوه ډېر بېوزله هېواد کې هستوګنه کوي، ترسره شي. دا کار نه یوازې افغانستان ته د فوق العاده مالي مرستو له لارې ترسره کیږي بلکه باید هڅه وشي ترڅو د مرستو د اغېزمنتیا د زیاتوالي او د مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ او د افغانستان د ادارو له خوا د خدمتونو وړاندې کولو ته د پام اړولو له لارې د بهرنیو تمویلي وجهو څخه لازیاتې نتیجې ترلاسه شي.»*

د نوموړي کتنو او خبرو په چارو کې د حساب ورکونې پیاوړتیا، دعامه ادارو د اجرااتو ښه والي او د اداري فساد کمښت تر پوښښ لاندې راوستل شول. دا ګټور ګامونه به د مرستو د اغېزمنتوب د اوچتولو، د دولت د بودیجې له لارې د زیاتو مرستو د ورکړې د شوني کېدو او د پاڅونو د ځینو لاملونو د له منځه تللو سبب شي. ده په کلیو کې د بېوزلۍ د ورکولو اړوند پروګرامونو له پاره لکه د ملي پیوستون پروګرام، د بنسټیزو جوړښتونو د ښه والي او د خصوصي پانګه اچونې په لاره کې د خنډونو د ورکولو لپاره د دولت د پلانونو د ملاتړ لپاره د نړیوال بانك ژمنې په ډاګه کړې.

ښاغلي پاتل یادونه وکړه چې نړیوال بانك پوهیږي چې د افغانستان بیارغونه به څو لسیزې ونیسي او ددې لپاره به پرله پسې نړیوالو مرستو ته اړتیا وي. د پاریس په راتلونکې کنفرانس کې چې د وروستیو مرستو د اغېزمنتیا د زیاتوالي لپاره به د افغانستان پرمختیایي اجنډا تر څېړنې لاندې ونیسي، نړیوال بانك تمه لري چې د وړیا پرمختیایي مرستو د ورکړې او د ستراتیژیو د پالیسي په

هکله د مشورو د برابرولو لپاره به څو کلنۍ ژمنې ترسره کړي. نړیوال بانك به د مرستو په همغږۍ کې خپله ونډه د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې د غوښتنې سره سم ترسره کړي.

ښاغلي پاتل چې د سیمه ایيزو اقتصادي همکاریو په هکله د سهیلي آسیا په هېوادونو کې پر خبرو بوخت دی، هیله مند دی چې په سیمه کې د نږدې پیوستون لپاره یو نوی قوت را منځ ته شی. ده حکومت وهڅاوه ترڅو د خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د ستراتیژیکو پانګه اچونو د تیاریو لپاره لکه د مرکزي آسیا څخه پاکستان ته د برېښنا د مزو د غځولو لپاره په ټینګه همکاري وکړي او د سیمه ایيزې سوداګرۍ او تراتزیت د خنډونو له منځه وړلو لپاره کلك ګامونه واخلي او زیاته یې کړه چې *« افغانستان د آسیا په زړه کې د خپل موقعیت په سبب د مرکزي، سهیلي او لویدیځې آسیا ترمنځ د مرکز په حیث زیات ممکن توان لري. دا هیواد کولای شي د نږدې همکاریو له لارې لکه د مرکزي آسیا څخه سهیلي آسیا ته د انرژي او په خاصه توګه د برېښنا د انرژی د ترانزیت له لارې غټه ګټه ترلاسه کړي. افغانستان په وچه کې واقع یو هېواد دی او د نویو او لږ لګښت ترانزیتي لارو څخه د سیمې د شمال او سهیل ترمنځ د سوداګرۍ څخه هم ګټه ترلاسه کولای شي. په سیمه کې د ننه د ستونزمنو پالیسیو له امله د ګډ کلتور، ګډ جغرافیایي موقعیت او د توکو او خلکو د ترانسپورت اړوندې ګټې له منځه تللې دي. دا به ضرور وي چې د انرژي، اوبو، کارګرانو د مهاجرت او نورو حساسو مسایلو په هکله د پېچلیو سیمه ایيزو موافقو د لاس ته راوړلو لپاره د اعتماد فضا رامنځ ته شي.»* همدارنګه ده یادونه وکړه چې مهمه ده ترڅو د سیمه ایيزې همکارۍ د خنډونو او په خاصه توګه د ظرفیتونو د ټیټ والي او د حکومتدارۍ د کمزورتیاوو په هکله سم پرمختګ وشي.

همدارنګه ښاغلي پاتل د هغه وروستیو ناسمو سوچونو په هکله چې افغانستان ته د نړیوالو مرستندویه هڅو په هکله منځ ته راغلي دی، توضیحات وړاندې کړل. نړیوال بانك افغانستان ته د خپلو ژمنو په ډګر کې وروسته والی نلري. د ۲۰۰۶ کال د جنوري په میاشت کې نومووړي بانك ۱،۲ میلیارډه امریکایي ډالره په پنځو کلونو کې (یانې په کال کې ۲۴۰ میلیونه امریکایی ډالره) ژمنه وکړه. په ۲۰۰۷ مالي کال کې نوموړي بانك خپلې ژمنې ته پوره کړه او داسې پروژې یې منظورې کړې چې ټول ارزښت یې ۳۱۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېده او سږ کال ( ۲۰۰۸ مالی کال د ژمنې سره سم د ۲۴۷ میلیونو ډالرو په ارزښت پروژې تمویلوي. همدارنګه نړیوال بانك د داسې پروګرامونو حمایت کوي چې په چټکه توګه پلي کیږي. د هغه تادیاتو یانی هغه پیسو مجموعي شمېره چې د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا په عملي توګه د نړیوال بانك له خوا په پروژو کې لګول شوي دي، د وړیا مرستو مجموعې شمېرې په سلو کې ۷۱ جوړوي. د مرستو ورکړه د ودانیزو او توکو او خدمتونو د قراردادونو په خاصه توګه د بنسټیزو پروژو د قراردادونو د پیسو په ورکړه پورې چې د ژمنو په پرتله وروسته پاتې کیږي، اړه لري. په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوال بانك د کار د بیا پیل کېدو راهیسې نوموړي بانك تراوسه له ۱،۱ میلیارده ډالرو څخه زیات لګولي دي او تمه لري چې په ورته کچه به نورې وجهې هم منظورې کړي.

د افغانستان بیارغونې صندوق چې د نړیوال بانك تر اداره لاندې دی، ۲۷ تمویل کوونکو څخه مرستندویه وجهې راغونډوي او ټولې یې د حکومت د بودیجې له لارې لګوي. نوموړي صندوق تراوسه پورې ۲،۴ میلیارده ډالر راغونډ کړي دي چې له هغې څخه ۱،۴ میلیارده ډالر د دولت د ښوونکو، روغتیایی کارکوونکو او اداري چارواکو د معاشونو د لګښتونو لپاره په ثابته توګه ورکول شوي دي. همدارنګه ۶۰۰ میلیونه ډالره د هغه پروژو لپاره لګول شوي دي چې په عمومي توګه د افغانستان په کلیوالو سیمو کې پلي کیږي او په سلو کې ۸۳ (۵۰۰ میلیونه ډالره) مخکی لګول شوي دي. د نوموړي صندوق بله ګټه داده چې د حکومت او مرستندویه هېوادونو د معاملاتو لګښتونه لږ وي چې دا د هغه لګښتونو په پرتله چې له څو مرجع ګانو او کوچنیو پروژو له لارې ترسره کیږي کم دي او همدارنګه د حکومت د ظرفیتونو د ودې او پرمختیا لپاره به هم ګټور وي.

په افغانستان کې د نړیوال بانك د چارو په هکله لاندې ویب سایت کتلای شی: *http://www.worldbank.org.af*